UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
http://unama.unmissions.org

**امنیت شورا ته د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازی یان کوبیش ګزارش**

(ځرنګه چې وړاندی شوي)

**نیویارک، ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۴**

---

آغلې رئیسې او د شورا محترمو غړو،

تاسي پداسې حال کې سره وینئ چې د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو پایلې څو ورځې وروسته به اعلان شې د ملي یووالي حکومت د جوړیدو پر سر سیاسي تړون ندی شوی. په تېرو اونیو کې بحثونه د شپې تر نیمایې پوري دوام درلود، چې د دې لامل شو چې ډاکټر عبداله او ډاکټر غني یو بل ته سره نږدي شي خو یو لړ ستر مسلې لا هم پاتې دې چې باید حل شي. دغه ځنډول شوي کړکیچ، ناورین لا زیات ژور کوي، چې لا دمخه په افغانستان کې د ستر سیاسي، اقتصادی او امنېتي لګښت لامل شوي چې راتلونکې یې هم د حقېقي ګواښونو سره مخ کړي. په همدې دلیل و چې ما یو ځل بیا له کابل څخه تاسي ته ګزارش وړاندي کړ، چېری چې په اخري پرمختګونو کې زما د ملاتړ د هڅو پخاطر زما شتون لپاره غوښتنه وشو.

آغلې رئیسې،

که په ساده ډول سره ووایو، تر دې ښه لاره نشته چې د ملي یووالي حکومت جوړ شي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا تایید شوي ولسمشر لخوا مشري وشي او کارونه د اجرایي رئیس سره په مشارکت کې پر مخ بیول شي. نور ټولې لارې یا خو د سترو ګواښونو سره مخ دی او یا خو د هېواد د اساسي قانون کاري چوکاټ اغیزمن کوي. مخکې دواړه کاندیدان دې ته ژمن شوي دي چې د دغه ډول یوې ادارې سره موافقه لري او د ټولټاکنو نتایج رعایتوي، پدې شرط سره چې یوه ارزونه ترسره شي. دا چې د داسي ادارې پر اصولو باندې موافقه وشی یو ډیر ستونزمن کار دی. پداسې حال کې چې دغه به یوه افغاني پروسه وي، زه غواړم چې د متحده ایالاتو د دوامدار او رغنده آسانتیاو څخه مننه وکړم. نور ستونزمن ټکې، د دې په ګډون چې په څه ډول سره نتایج وړاندي شې چې د دواړو خوا ملاتړ کوونکې په واقعې او ربښتنې توګه باور وکړي چې د دوي کاندید بریالۍ دی، او د ارزونې څخه پرته بله پایله نه منې، پاتې دی. زه په مکرر ډول سره ټینګار کوم چې د ملي یووالي په حکومت کې بایلونکې نشته خو همکاران شته.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي بان کي مون د سپتمبر د میاشتې په ۱۰ نېټه د دواړو کاندیدانو سره په یو ټلیفوني تماس کې ټینګار وکړ چې مخکې لدې چې د ټاکنو پایلې اعلان شي پر یو توافق باندې هوکړه وکړي. پر دغه پیغام باندې یو ځل بیا هغه مهال

ټېنګار وشو چې د عمومي منشي مرستیال جفری فلتمن یوه ورځ وروسته د کابل څخه لېدنه وکړ او همدارنګه زما د هڅو په مرکز کې قرار لري. دا به د پېښو سلسله وي چې په ښه ډول سره وکولای شي په پراخه اندازه د منلو وړ پایلې تامین کړي.

که چېرې د ټاکنو د پایلو د تایید تر وخته تړون ترسره نشي نوي تحرکات به لوبې ته ور ګډ شي چې کولاي شي بې باورې، حتې د جګړې ګواښ، به هم زیات کړي.

آغلې رئیسې،

د دې پېښې په پام کې نیولو سره چې په کال ۱۹۹۰ کې هېواد یو زړه بوګنونکې داخلې جګړې ته داخل شو، په افغانستان کې ستر خاطرې شته چې که د حکومت ترتیبات ناکام شي ناوړه پایلې به ولري.

یو مشروع او پراخ بنسټ منل شوي سیاسې انتقال د نږدې تېر شخړې دوره د ماتولو لپاره یوه اشاره ده چې په تېرو لسیزو کې په افغانستان کې د رژیم د بدلون سره مل و. همدارنګه دا د یو پیاوړي ماموریت د چمتو کولو لپاره ضروری ده تر څو په هېواد کې، د یو پیاوړي سوداګرې، د نغدو پیسو کمېدل، او په ځانګړې ډول د پراخیدو په حال کې د مخدره توکو اقتصاد په ګډون، د زیات شمېر ننګونو سره مبارزه وکړي. په پای کې دا ډیره مهمه ده تر څو داډمن شي نړیواله ټوله د خپلو مرستو د دوامداره ژمنو لپاره یو د باور وړ شریک ولری، چې د نړۍ په هېوادونو کې پر بشري مرستو باندې تر ټولو زیات متکی هېواد دی.

آغلې رئیسې،

دا د دواړو کاندیدانو او افغان چارواکو غوښتنه وه چې ملګري ملتونه باید د ټولټاکنو په پروسه کې د ستر ملاتړ په ډول ونډه ترسره کړي، که څه هم دغه کار د هېواد د ټاکنو د نهادونو مسؤلیت دی. د بېساري ملې تفتیش په کار کې، ملګرو ملتونو د نړیوالې ټولنې په استازیتوب او همدارنګه د هغوي سره په بشپړ صلاح مشورو کې عمل وکړ. په منظم ډول هره ورځ او په ډیرو مواردو کې د دواړه کمپاینونو سره په ټولو مرحلو کې د پروسې پر طرحې او څارنې په اړوند سلاح مشورې کړي دي.

ملګري ملتونه د دې ونډې غوښتنه نه و کړي. هغه د شخړو د مخنیوي د ملاتړ لپاره او د ماموریت د دندې د یوې برخې په ډول، دغه ونډه یې د مسؤلیت په توګه ومنله. د پرسونل د ملاتړ اړینو عناصرو د سمدستې خوځښت، د ملګرو ملتونو سیسټم په ریښتنې ډول سره دا یې ښکاره کړ چې دوي د واحد ملګرو ملتونو په ډول عمل کوي. دا هم ښکاره خبره وه چې د ملګرو ملتونو شهرت د ګواښ سره مخ و. په هر صورت دا یو داسې حالت و چې ګواښ باید په غاړه واخیستل شي. زه غواړم د ملګرو ملتونو د کورنۍ، په ځانګړې ډول د ملګرو ملتونو پراختیایې پروګرام، د سیاسې چارو څانګې، او همدارنګه د نړیوالو څارونکو د چټک استقرار او په عمده ډول د اروپایي اتحادیې او متحده ایالاتو د ملاتړ څخه په ټېنګار سره ستاینه وکړم.

د ټاکنو کمیسیون د تېرې یکشنبې په ورځ خپل د پریکړې وروستۍ غونډه تر سره کړ چې د ملګرو ملتونو د څارنې ونډې او مسؤلیت ته هم د پای ټکی کېښود. زموږ ارزونه دا وه چې د دغه تفتیش د پروسې په اړه یو اړهرخېز او باور وړ کنټرول چمتو کړ چې د ظرفیت، ژوروالي او کره کتنې له پلوه بېساری و. د درغلۍ یوه ستره کچه کشف او له منځه یوړل شو. تایید شوي اطلاعات ښیي چې په ملیونونو ښځې او نارینه د جون د میاشتې په ۱۴ نېټه د واک د سوله ایز او دیموکراتیک لېږد په ملاتړ کې رایه ورکولو ته راوتلې و. دوي د ملې یوالې حکومت د جوړولو په اړه د دواړو مشرانو ترمنځ د اوږدې مودې ځنډیلې هوکړې ته له میاشتو راپدېخوا په خورا لیوالتیا سره په تمه و. دا د دوي هېلې دي چې باید ورته درناوی وشي.

آغلې رئیسې،

د افغانستان په وړاندې جدې او مخ په زیاتېدونکې ننګونې، د یو داسې حکومت پر جوړولو چټکې هوکړې ته اړتیا لري. په بلواګرې فعالیتونو کې تاکتېکې بدلون، نه یوازې د ګډوډۍ بلکې په ټول هېواد کې د سېمو د ولکې کولو د هڅو شاهد و. نړیوال پوځې پرسونل کې کمښت، د دې لامل شوی دی چې ځېنې سخت درېځه کړي و پارول شي او دا ناسمه مفکوره په سر کې ولري چې دوي کولاي شي له پوځې اقدام له لاري واک او بریا به ترلاسه کړي. په مرکز کې د څو میاشتو راپدیخوا سیاسې کړکیچ د دې

لامل شوی دی چې د قدرت ځايي زورواکي او دلالان او ګډوډې جوړونکي، د نړيوال تروريستي ډلو او جنايي شبکو، د القاعده او حکومت ضد عناصرو په ګډون، د سيال او تل بدلېدونکو چاپېريال څخه په ګټه اخيستلو سره، ځانونه مطرح کړي.

لکه څنګه چې ځمکنۍ نښتې د ملکي وګړو د تلفاتو تر ټولو ستر لامل دی، نو ملکي وګړي تر ټولو زيات د جګړې څخه زيانمن کيږی. د روان کال په لومړيو اتو مياشتو کې د ملکي تلفاتو کچه، د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله، ۱۵ سلنه لوړه شوي ده، چې ۲۳۱۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۴۵۳۳ تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي. چې په ټولېزه کچه د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله د وسله والو شخړو له امله د ښځو په تلفاتو کې ۱۶ سلنه او د ماشومانو په تلفاتو کې ۲۴ سلنه زياتوالي راغلی دی.

د افغان ملي پولېسو او همدارنګه د پوځ پرسونل، په زړورتيا سره جنګېږي او زه د هغو ټولو زړورو افغانانو ستاينه او درناوي کوم چې د خپل هېواد په خدمت کې وژل کېږی او يا ژوبل کېږي. د افغانستان امنيتي نهادونه دوامداره ملاتړ ته به اړتيا ولري. نوی اداره بايد په چټکۍ سره د نړيوالو مرستو د دوام لپاره، د اړين پلان جوړونې او چمتوالي لپاره، په متقابل ډول سره هوکړه شوي قانوني چوکاټونه بشپړ کړي. په ويلز کې د ناټو په سرمشريزه کې د افغان امنيتي ادارو لپاره د دوامداره ملاتړ چمتو کولو د ارادې د تاييد هرکلی وشو.

د روان کال په پای کې د نړيوال امنيتي مرستندوي ځواک ماموريت د بشپړېدو په درشل کې دی، د دغه فرصت څخه په ګټې اخيستلو سره، غواړم چې د هغو ټولو هېوادونو د ملاتړ ستاينه وکړم او همدارنګه هغو کورنيو ته خپل د درناوي مراتب وړاندي کړم کوم چې خپل عزيزان يې له لاسه ورکړي او يا ژوبل شوي دي.

آغلې رئيسې،

سياسي اوږد مهاله کړکېچ هم د افغانستان په اقتصادي رکود کې ونډه درلود او د حکومت په عوايدو کې ستر کمښت راغلی دی. نوي اداره د نغدي بحران د مخنيوي او د حکومت د دوامداره او بې له خنډه فعاليت لپاره بېړنی اقداماتو ته به اړتيا ولري، چې پرته له شکه د ډونرانو بېړني ملاتړ ته به اړيتا احساس شي خو دا اوږد مهاله اقتصادي او د حکومتوالی سمون دي چې د عوايدو ښه کولو او د مخ په زياتيدونکي مالي تشې د حل لپاره به حياتي ونډه ولري.

د نومبر په مياشت کې د افغانستان لپاره د پلان شوي لندن کنفرانس دمخه، د توکيو د متقابل حساب ورکولو چوکاټ بيا تنظيم او تازه کولو کې، د نوي اداري پياوړي ښکيلتيا د افغانستان څرګنده لومړيتوبونو او لارښونو لپاره به مرکزی ونډه ولري. دا په دې معنا ده چې د ښځو او ماشومانو حقونو، او همدارنګه پر هغو تګلارو تمرکز وکړي چې د مخ په زياتېدونکو او په لويه کچه د بېکاره ځوانانو قشر ته رسيدګي وکړي. د سېمه ايز پياوړې هڅو له لارو سربېره، د مخ په زياتيدونکو مخدره توکو اقتصاد د مخنيوي هڅو ته وده ورکول به هم خورا مهم وي.

آغلې رئيسې،

پداسي حال کې چې افغانان د خپل برخليک مسؤليت په غاړه اخلي، د ننګونو برسېره ، فرصتونه هم شتون لري.

د خپل دندې په موده کې ما پر افغانستان متمرکز، سېمه ايزې همکاري باندې په ځانګړي ډول ټېنګار کړی دی. په ګاونډې هېوادونو کې د اقتصادي، زيربناو او امنيتي اړيکو پياوړتيا به د افغانستان د راتلونکې ثبات او پايښت لپاره په يوه باثباته او سوکاله سېمه کې خوار مهم وي. زه د چېن هېواد د آسيا د زړه – استانبول پروسې، د تيانجېن د وزيرانو کنفرانس لپاره د چمتوالي په برخه کې د پياوړې مشرتابه هرکلی کوم.

د پاکستان سره اړيکې د افغانستان د خورا مهمو او د ننګونو څخه ډک اړيکو څخه يو دی. د اقتصادی پراختيا، ترهګرۍ سره د مبارزې، د پولو مديريت او د مرګ ژوبلو سره مل د پولو ها خوا ښځو په څېر د ګډو ننګونو په وړاندي د پرمختګ لپاره د اړيکو بيارغونه د يوې نوې اداري لاندې ممکن کېداي شي. دا هم امکان لري چې نوي اداره د افغانانو په مشرۍ د پخلاينې هڅو ته د نوي ژوند ورکولو يو فرصت په ډول وي چې ملګري ملتونه يې د مرستې لپاره چمتو دی.

آغلې رئیسې،

زه د ۲۰۱۲ کال په جنورۍ میاشت کې د یوناما د مشر په توګه کابل ته راغلم. په هغه وخت کې ډیرې ربښتنې پوښتنې وې چې آیا ټاکنې به ترسره شي؟ د افغانستان په تاریخ کې د واک لومړي دیموکراتیک لېږد به د ولسمشر حامد کرزی د دورې د تلپاتې مېراث په توګه ثبت وي.

په ربښتنې ډول، زه غواړم یو څه وخت و نیسم تر څو هغه څه روښانه کړم چې ولسمشر کرزی په ۲۰۰۱ کال کې د یوې درې ورې ملت مشرې په غاړه اخیستلو سره ترلاسه کړی دی. هغه به پداسې حال کې دنده پرېږدې چې هېواد ته یې اساسي قانون، اداري او قانوني چوکاټ چمتو کړې، سېمه ایز امنیتي ځواکونه د ولس د ساتنې مشرې په غاړه اخیستې ده، او پداسې حال کې چې افغانستان د نړۍ د بېوزلو او فاسد هېوادنو څخه یو شمېرل کیږي، د هېواد والو د ژوند په ښه کولو کې د ربښتینې پرمختګ کړې دي. هغه د تاریخ په کتابونو کې ځان ته سم ځای خپل کړی دی.

په دغه غونډه به د ماموریت د مشر په توګه زما شتون به وروستۍ وي.

دغه دوره د افغانستان لپاره د ننګونو څخه ډک وخت خو زما لپاره د خدمت کولو یو امتیاز و. د اوسنیو پېښو په ترڅ او د راتلونکې سولې هڅو په اړه فکر کې د کورنیو او نړیوالو خواوو  لخوا پر ملګرو ملتونو باندې باور او الهام ښونکې و. ملګري ملتونه د خپل مخ په وړاندې فعالیت کې، دواړه په افغانستان او پراخه سېمه کې د لا زیات مهم ونډې ترسره کولو سره به دوام ورکړي.

زه غواړم چې له تاسو ټولو څخه، د امنیت شورا د غړو، او نورو غړو هېوادونو او نړیوالو شریکانو لخوا د تېرو دوه نېمو کلونو په اوږدو کې د ملاتړ او لارښوونې لپاره مننه وکړم. زه غواړم د ملګرو ملتونو او په ځانګړي ډول د یوناما د همکارانو د سخت کار، پیاوړی مشورې او ربښتینې ژمنتیا له امله مننه وکړم. په ځانګړی توګه زما نږدې سلاکار ودیم نظروف او نور کسان مې یادیږي کوم چې پدې لاره کې خپل ژوند یې له لاسه ورکړي دي.

زموږ د ټولو کارونو هدف، چې موږ په ډیرو وختونو کې او په یوه ننګونکې، ستونزمن او له ګواښ څخه ډک چاپېریال کې ژمن ساتې، د افغانستان د ولس د هېلو ملاتړ دی چې په یوه باثباته او یو موټي افغانستان کې سوکاله او خوندي راتلونکې ولري. دا هغې هېلې دې چې باید پدې مهم پړاو کې مخکښې وي.

ستاسو د پاملرنې څخه مننه.

***

---


**په افغانستان کې د ملګرو  ملتونو مرستندي پلاوي (یوناما)، کابل، افغانستان**

**(http://unama.unmissions)**

*د لا زیات معلوماتو لپاره اړیکه ونیسئ:* ***Spokesperson-UNAMA@un.org***

Ari Gaitanis at gaiatanis@un.org or +93777720860